دافغانستان اسلامي جمهوری دولت
د ټاکنوخپلواک کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Independent Election Commission**

---

## د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

**شمېره:** ۶۰- ۱۳۹۳

**موضوع:**
١. د غزني د ولايتي شورا د غړي او مشرانو جرګې غړيتوب ته د نوماند ښاغلي محمد رحيم حسنيار د اسنادو څېړنه؛ او
٢. د ارزګان د ولايتي شورا غړي او له دغي شورا څخه مشرانو جرګې ته د نوماند ښاغلي محمد طاهر خان نادري د اسنادو څېړنه

**مرجع:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء

**د غونډې نېټه او ځای:** د ۱۳۹۳ کال د مرغومي۳مه ( د ۲۰۱۴ کال د ډسامبر۲۴ مه)د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر.

**حاضر غړي:** ښاغلیډاکتر احمد یوسف نورستانی، ښاغلیسرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسين کرزيواني،ښاغلی محمد عزيز بختياري، ښاغلی قاضی سلیمان حامد، آغلې لیلا احراری و آغلې شريفه زرمتی وردک.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو قانون د ۳۱ مادې د دریېمې فقرې او ۶۰ مادې د مندرجو حکمونو پر بنسټ **پرېکړه وکړه چې:**
د نفوسو احوالو د ثبت اداره د کمیسیون د استعلام په ځواب کې د غزني د ولايتي شورا د غړي او مشرانو جرګې ته نوماند ښاغلي محمد رحیم حسن يار سن ۳۸ کاله تثبیت کړی دی. نو له دې کبله نوموړی د مشرانو جرګې د غړيتوب وړ دی او وثيقه دې ور ته صادره او تفويض شي. له دې امله چې د احصایې اداري د کمیسیون استعلامونو ته بې‌لابېل ځوابونه وړاندې کړي او وړاندې کوي یې او له بل لوري ښاغلي محمد رحیم حسنيار د غزني ولايتي شورا ته د نوماندانی په موخه د نوم ثبتوني پر مهال چې د تذکرې کاپي اود دولسم ټولګي شهادتنامه وړاندې کړې او هغه د نوم ثبتوني فورمې چې نوموړي لاسلیک کړې، د ۳۵ کلنۍ عمر نه پوره کوي، نو له دې کبله هغه اسناد چې نوموړي د نوم ثبتوني پر مهال وړاندې کړي، معتبر ګڼل کېږي، چې باید د سناتور په توګه معرفي نه شي او د مشرانو جرګې د غړيتوب له پاره باید دغه شورا بیاځلي داخلي ټاکنې تر سره کړي.
د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمیسیون د مکتوب د ضمیمې پر اساس د ارزګان د ولايتي شورا د غړي ښاغلي محمد ظاهر خان نادري عمر د احصایې اداري له خوا ۳۶ کاله ټاکل شوی، خو دغې ادارې د کمیسیون د استعلام په ځواب کې د نوموړي د اصلي تذکرې غوښتنه کړې خو د هغې پر بنسټ د دهراود ولسوالي د اساس کتاب راوغواړي. خو د تذکرې د کاپي او د رأيي ورکوني کارت پر بنست چې ښاغلي

ظاهر خان نادري د نوم ثبتوني پر مهال وړاندې کړي، د هغه عمر ۳۲ کاله دی چې د مشرانو جرګې د غړيتوب شرايط نه پوره کوي. نو له دې کبله د نوم ثبتوني پر مهال د هغه وړاندې شوي اسناد د اعتبار وړ دي. او هغه دې د سناتور په توګه نه معرفي کېږي. او د مشرانو جرګې د غړيتوب له پاره دې دغه شورا بيائلي داخلي ټاکني ترسره کړي.

| له پرېکړې سره مخالف | د غړيو نومونه | له پرېکړې سره موافق |
|---|---|---|
| | ښاغليډاکتر احمد يوسف | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالی اڅکزی | |
| | ښاغلی سرير احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني | |
| | ښاغلی محمد عزيز بختياري | |
| | ښاغلی قاضي سليمان حامد | |
| | آغلې ليلا احراري | |
| | آغلی شريفه زرمتی وردک | |